


دکتور حبیب الله تږی

## پښتانهٔ په پخواني افغانستان کښې

په ځنو پخوانو آثارو کښې په هغې لویه سیمه کښې هم په هم دې وخت کښې د پښتنو د سکونت او حالاتو یادونې شوې چې هم سیفي هروي په تاریخ نامه کښې (تالیف۷۱۸-۷۲۱ هجري) او هم ځینې نورو پخوانیو مؤلفینو د ((افغانستان)) په نامه یاده کړې ده او مونږ د دې لیکنې په اتم فصل کښې پرې غږېدلي یو.

وړومبنے معلوم تحریري سند چې د دې پراخې سیمې په ځنو برخو کښې، د پښتنو د سکونت یادونې پکښې شوې هغه د فردوسي د شاهنامې ملحقات دي چې د لیکلو وخت ئې د شپږمې هجري پېړۍ په حدودو کښې ټاکل شوے او د ناظم نوم ئې نهٔ دے معلوم. ناظم د افغانانو او د هغو د مشر، کک کهزاد په باره کښې په ښائسته تفصیل غږېدلے دے خو دلته ئې یوائې یو څو د مطلب ټکي را اخلو.

ناظم وائي چې دهٔ ته یوهٔ بزګر د پخوانو خلقو له خُلې داسي قیصه وکړه چې له غزني نه د دربو ورځو په فاصله یو لوړ غر وهٔ. په غرهٔ کښې یوه ستره قلا وه چې دې وائي نوم ئې مرباد وهٔ. وائي چې په دې قلا کښې یو ډېر غښتلے، توریالے او جنګیالے سپین ږیرے افغان اوسېدهٔ چې نوم ئې کک کهزاد او د زرګونو سورو او پیاده جنګي مېړونو مشر ؤ. د زابل او سیستان له سیمو نه به ئې مال او باج ټولوو. د رستم پلار او نیکهٔ ته ئې چې د سیستان مشران او پهلوانان وو، څو څو واره زور ورښودلے او باج او خراج ئې پرې منلے وهٔ. زال به کک ته هر کال د غوائي په پوټکي، لس مشکه زر ورکول. خو په پایې کښې د زال زوي، رستم له کک سره ډغرې ووهلې او مات ئې کړو. په دې وخت کښې زال هم له سیستان نه وروسېدو او لښکر ئې له نورو پښتنو سره وجنګېدو. ډېر زیات افغانان ووژل شول او ناظم وائي چې زال د کک شهنشاهي مانۍ ته ورننوت او تالا ئې کړه. ناظم دا هم وائي چې د کک د شهنشاهي مانۍ په هر ګُټ کښې یوه خزانه پرته وه او زال ته ډېرې زیاتې په دُرو ښکلل شوې خولۍ، په یاقوتو ښکلل شوې ملاوستنې، سپوږمۍ غوندې ځلانده مینځې، چیني غلامان او بېخي زیات دینارونه او خز او سمور په ګوتو ورغلل. په دې پسې زال د مرباد قلا ورانه کړه. کک او د هغهٔ ورارهٔ دواړه ئې ووژل. (۸۲)

خپله د شاهنامې د ملحقاتو د دې قیصې د سر یو څو بېتونه دا دي:

چنین گفت دهقان دانش پژوه
مر این داستان را زپېشین گروه
که نزدیک زابل به سه روزه راه
یکي کوه بدسر کشیده به ماه
یکي قلعه بالاي آن کوه بود
که آن حصن از مردم انبوه بود
به دژ در یکي بد کنش جاي داشت
که در رزم با اژدها پاي داشت
نژادش ز افغان سپاهش هزار
همه ناوک انداز و ژوبین گداز (۸۷)

اما کوم مؤرخ چې په دې سیمو کښې د افغانانو یادونې کړې، هغه سېفي هروي دے. سېفي په خپل معتبر اثر، د هرات تاریخ نامه کښې چې له کال ۷۱۸ نه تر ۷۲۱ هجري پورې ئې د سلطان غیاث الدین کرت په هدایت او مشوره لیکلې ده، د افغانانو او هغې سیمې په باره کښې چې په تاریخنامه او ځنې نورو پخوانو آثارو کښې، لکه تاریخ فېروزشاهي (۱۳۵۷ م)، روضات الجنات (۸۹۷-۸۹۹ هجري) او مطلع السعدېن (۸۲۷-۸۷۵ هجري) د ((افغانستان)) په نامه یاده شوې ده. یو لړ د پوره اعتنا وړ مطالب راوړي دي.

سېفي دا مطالب اکثره د هغو یرغلونو د بیان په ضمن کښې یاد کړي چې د هرات د کرت د کورنۍ مؤسس، مشر ملک شمس الدین، د ((افغانستان)) په بیلو بیلو برخو کښې کړې دي. سېفي د تاریخ نامې دیارلس فصله، غونډ د ((افغانستان)) پېښو ته وقف کړي دي او د دې تر څنګه ئې د افغانانو په باره کښې ځینې نورې متفرقې یادونې هم کړې دي.

څۀ رنګه چې د سېفي تاریخنامه وړومبنے معلوم اثر دے چې د ((افغانستان)) نوم پکښې یاد شوے او د ((افغانانو)) د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ژوند په ارتباط یو څۀ مطالب پکښې ثبت شوي دي نو له دې امله مونږ د دغه درانۀ اثر دا دیارلس فصلونه ټول په مرتب مګر مختصر ډول را اخستي او په دا ضمن کښې مو یو نیم بل اثر مثلاً د زمچي اسفزاري روضات الجنات ته هم کله نا کله اشاره کړې ده.

سېفي وائي چې چنګېز خان په افغانستان او سیمه باندې د خپلو یرغلونو او فتوحاتو په وخت کښې ملک رکن الدین د غور او د غور د مضافاتو د ملک په حېث ومانۀ. وروستو به چې ملک رکن الدین په غزني کښې د چنګېزي حاکمانو لیدنې کتنې ته ورتۀ نو ملک شمس الدین کرت به ئې هم له ځان سره بوتلو. په هم دې جریان کښې ملک شمس الدین کرت چنګېزي مشرانو ته ښۀ وروپېژاندې شو او د ملک رکن الدین له مرګ نه وروستو ئې په کال ۶۴۳ هجري کښې د غور د ملک په حېث ومانۀ او د ملکۍ پګړۍ هم خپله چنګېزي مشر، طاهر بهادر، وروتړله. کله چې ملک شمس الدین کرت په کال ۶۴۵ کښې د چنګېزیانو د لوئي مشر منکو خان دربار ته ورغے هغۀ د هرات توابع او ځینې نورې سیمې چې د سېفي د وخت افغانستان هم پکښې شامل وۀ، ورته په نامه کړې. ملک شمس الدین د چنګېزي منکو خان له یوۀ نزدې مشاور، جاهو سره هرات ته لاړو او د کرت د کورنۍ د واکدارۍ سلسله

ئې پېل کړه. څو کاله وروستو ئې د ((افغانستان)) د نیولو بندوبست وکړو. په کال ۲۵۰ هجري کښې ئې یو هېئت چې په سر کښې ئې جاهو واقع وهٔ ((افغانستان)) ته ولېږهٔ او وظیفه ئې دا وه چې د چنګېزي مشرانو او ملک شمس الدین فرمانونه د ((افغانستان)) واکدار ملک شهنشاه ته ورورسوي. هېئت فرمانونه ملک شهنشاه ته واورول. شهنشاه د هېئت مشر ته ووئیل چې ((ملک شمس الحق والدین د کفارو په حکم دې ملک ته راغلے دے او مونږ تراوسه پورې چنګېز خانیانو ته مالیه نهٔ ده ورکړې.)) خو ملک شمس الدین ته به چې یو مسلمان ملک دے یو څهٔ مالیه ومنو. له دې ځواب نه وروستو ئې د برش تنه غلامان جاهو ته وروبخښل او ملک شمس الدین ته ئې هم ګران سوغاتونه ورولېږل.

هېئت بېرته ملک شمس الدین ته ورغے. ملک شمس الدین چې دا مهال په تکناباد کښې وهٔ. د ملک شهنشاه د ځواب له اورېدلو نه وروستو د خپلو ډېرو زیاتو لښکرو سره په شهنشاه باندې د حملې په اراده، مستونګ ته روان شو. شهنشاه چې خبر شو له پینځهٔ زره جنګي مېړونو سره د خاسک چونې ته چې له مستونګ نه بهر پرته وه، لاړو.

ملک شمس الدین د ۲۵۲ هجري کال د محرم د میاشتې په اوائلو کښې د مستونګ ښار قلابند کړو. خو څنګه چې پوه شو چې شهنشاه د خاسک قلا ته تلے دے نو هلته پسې ورغے، قلا ئې محاصره کړه. قلا درې میاشتې محاصره وه او د ملک شمس الدین او شهنشاه قواوو اوؤ ځله جګړه سره وکړه. خو شمس الدین قلا ونهٔ شوه نیولې. په پای کښې د ملک شمس الدین قواوو د خاسک په قلا له هرې خوا حمله وکړه. د قلا ورئې وسوځوهٔ، قلا ته ورننوتل او د ملک شهنشاه ډېر زیات جنګي مېړونه ئې ووژل. ملک شهنشاه او د هغهٔ زوے بهرام شاه ئې هم له نوي تنه خپلوانو او نوابانو سره ګرفتار او مړهٔ کړل. سرونه ئې ترې پرې کړل او شاو خوا سیمو ته ئې د نورو د عبرت دپاره واستول.

ملک شمس الدین د ۲۵۳ هجري کال د شهور په میاشت کښې له مستونګ نه د ((افغانستان)) د یوې بلې قلا، تیرې د نیولو په نیت روان شو. د تیرې د قلا کوټوال یو ډېر لوئے د نامهٔ او قدرت خاوند، المار افغان وهٔ. دهٔ هغو فرمانونو ته چې جاهو ((افغانستان)) ته وړي وو، ډېر کلک ځواب ورکړے وهٔ او وئیلي ئې وو چې ((کهٔ زما ټول خپلوان او عزیزان د ملک شمس الدین خدمت او مالیه ومني زهٔ المار به تر مرګه ونهٔ منم. نهٔ د هیڅ سلطان په وخت کښې زما پلرونو او نیکونو د مغلو خدمت منلے او نهٔ ئې د کفارو مالیې ته تن ورکړے دے. څو واره طاهر بهادر او سالي نوین راغلل خو سره له خپلو سترو لښکرو پښېمانه او مړهٔ مړهٔ څټونه بېرته لاړل. مونږ دا منو چې شل تنه غلامان ملک شمس الدین ته ور ولېږو خو کهٔ تر دې څهٔ غواړي نو بیا به په توره او ډال فیصله کېږي.)) (۸۸)

کله چې د ملک شمس الدین لښکر د تیرې قلا ته وررسېدو، له هرې خوا ئې حمله پېل کړه، جګړه شپېتهٔ ورځې روانه وه. په پایې کښې ملک شمس الدین قلا ونیوله. المار ئې ګرفتار او په ملا ئې دوه ټوټې کړو. د المار د پنځوسو تنو صاحب منصبانو سترګې ئې په سرهٔ سیخ ور نه وویستې. له پنځوسو

تنو نه ئي پښې او لاسونه پرې کړل. د پنځوسو تنو ئې غوږونه او پوزې ور پرې کړې او په دې ډول ئې د «افغانستان» د يوه بل لوئي مشر المار مېنه بېخي سپېره کړه.

شعېب افغان د «افغانستان» يو بل لوئے مشر وه چې ملک شمس الدين غوښتل وې ځپي. سيفي وائي چې شعېب يو نوميالے او زړور افغان او د سرنا [۸۹] د قوم وه. يو زر او پينځه سوه جنګي مېړونه ورته ولاړ وو. کله چې ملک شمس الدين په کال ۷۵۱ هجري کښې د «افغانستان» په يرغل ورووت. شعېب کشمير ته واوښت. خو کله چې خبر شو چې ملک شمس الدين د خاسک او تيري قلاګانې ونيوې نو بيرته «افغانستان» ته لاړو.

د ملک شمس الدين يو لوئے مامور، محمد نبي چې پينځه سوه مېړونه ورسره وو په ګرمسېر کښې ماليه ټولوله. شعېب ځان ګرمسېر ته ورسوو او د محمد نبي په مېړونو نيمه شپه ورولوېده. ډېر ئې ورنه ووژل او يو شمېر اسونه ئې ورنه بوتلل.

کله چې ملک شمس الدين کرت په دې پېښه خبر شو نو د شعېب د ټکولو دپاره «افغانستان» ته روان شو. شعېب سمدستي د کهيرا قلا ته پناه يوړه. سيفي وائي دا قلا دومره پخه او له دومره شتو نه ډکه وه چې «نه په څلور کُنجه دنيا کښې بله داسې قلا موجوده وه او نه ئې پرته د قارون ملعون له ګنج نه بل چرته د خزانو او ذخيرو سارے وه.» [۹۰]

ملک شمس الدين وروستو له شلو شپو نه ځان د قلا خوا ته وروسولو. پينځه تنه ژبور افغانان ئې دننه قلا ته ورولېږل چې شعېب ته ووائي چې د قلا ور په خپله پرانزي او ملک شمس الدين ته تسليم شي. شعېب د هغوي خبرو سخت په غصه کړو او پينځه واړه ئې له قلا نه سر په څېړۍ ګوزار کړل. ملک شمس الدين د شعېب دې کار سخت په غصه کړو او له خپل ټول فوځ سره مخ په قلا ورغے. د شمس الدين فوځ شپږ څلوېښت ورځې د قلا خوا ته پروت وه. خو قلا ئې ونه شوه نيوې. په پايې کښې خپله د قلا خلق دوه ډلې شول او ډغرې ئې سره پېل کړې. د شعېب مخالفه ډله غالبه شوه او هغه ئې لاس تړلے ملک شمس الدين ته وروست. شمس الدين د شعېب سر په خپل لاس پرې کړو او د هغې ډلې مشران ئې ډېر زيات وغټول چې شعېب ئې وروستے وه.

د شعېب قتل د دې سبب شو چې د «افغانستان» يو بل نوميالي قومي مشر په کال ۷۵۴ کښې له ملک شمس الدين سره ډغرې پېل کړې. دا د شعېب د ترۀ زوے سندان افغان وه. سيفي وائي چې سندان يو توريالے افغان او له څۀ مودې نه را دې خوا ته د ملک شمس الدين د دربار ملازم ؤ. دۀ چې زر تنه ملا تړلي او تکړه مېړونه ورته ولاړ وو، د ملک شمس الدين دربار پرېښود او له خپلو مېړونو سره ئې د دوکۍ قلا ته پناه يوړه او هلته تخمين زر تنه نور «ياغي او داړه مار مېړونه» هم ورسره يو ځائے شول.

کله چې ملک شمس الدين د سندان حال وليدو نو د «افغانستان» يو بل نوميالے، ملک تاج الدين، ئې د سندان ځپلو ته ورولېږۀ. ملک تاج الدين چې د ملک شهنشاه د زوم، د ميرانشاه مشر ورور ؤ، له ملک شمس الدين سره هغه وخت په تکناباد کښې ملګرے شو چې ملک شمس الدين د ملک شهنشاه د ځپلو او د مستونګ د حکومت ړنګولو ته ور روان ؤ.

نور بيا